د امربالمعروف، نهی عن المنکر او شکایتونو اورېدلو وزارت

له رسنیو سره د اطلاعاتو او اړیکو امریت

# شیخ محمد خالد الحنفي؛ اسلامي احکام باید په ټولو اقشارو یو ډول پلي شي.

۲۸ ذوالحجه ۱۴۴۳ هـ ق

د امر بالمعروف، نهی عن المنکر او شکایتونو اوریدلو وزارت سرپرست وزیر شیخ محمد خالد (الحنفي) بامیان ولایت ته د سفر پر مهال یوې پراخې غونډې ته په خپله وینا کې وویل د اسلامي نظام په وړاندې د ټولنې ټول اقشار یو ډول دي او هم باید اسلامي حکمونه په ټولو اقشارو یو ډول پلي شي.

په دغه غونډه کې پر ولایتي مسـؤلینو سربېره، د یاد ولایت د امربالمعروف، نهی عن المنکر او شکایتونو اورېدلو ریاست، مسـؤلینو، محتسبینو، عالمانو او قومي مخورو هم ګډون درلود.

د امربالمعروف وزارت سرپرست وویل: دا په موږ او تاسو د خدای جل جلاله لویه پیرزوینه ده چې د امن په فضـا کې د شریعت او اسلامي احکامو د پلي کولو په اراده سره راغونډ شوي یو، نظامونه ځي او راځي خو هغه نظام چې د اسلامي شریعت د نافذیدلو قصد لري هغه همدا نظام دی چې خدای جل جلاله موږ او تاسو ترې برخمن کړي یو.

شېخ محمد خالد الحنفي زیاته کړه چې دا نظام په مفته نه دی راغلی د دې نظام د قیام لپاره نارینه وو، ښځو، ماشومانو، ځوانانو او بوډاګانو قرباني ورکړي چې اوس هغه قرباني د اسلامي احکامو د تطبیق غوښتنه کوي.

نوموړي د اشغال پر مهال د منکراتو د رائجولو برنامو ته په اشارې سره وویل: امریکا او ناټو غوښتل چې افغانستان د منکراتو له حیثه په دوهم واشنګټن بدل کړي خو د الله جل جلاله اراده بدله وه او هغوی یې د خپلو مخلصـو بندګانو په واسطه شرمنده او ناکام کړل لکه څنګه چې خدای جل جلاله فرمایلي دي چې تاسو د الله جل جلاله د دین نصرت وکړئ الله جل جلاله به ستاسو نصرت وکړي.

شیخ خالد الحنفي دا راز وویل: موږ او تاسو باید هغه وخت یاد ولرو چې د امکاناتو او بشر‌ـــي ځواک له مخې کم او کمزوري و، خو اوس چې الله ﷻ قدرت راکړ باید خپله وعده پوره کړو یعنې د معروفاتو اقامه او د منکراتو ازاله وکړو.

نوموړي دا راز مجاهدینو ته په خطاب کې وویل چې تاسو د دې نظام د اجرایه قوې په حیث مکلف یاست چې له هغو مســؤلینو سره چې امربالمعروف او نهی عن المنکر ترسره کوي مرسته وکړئ.

د امربالمعروف وزارت سرپرست وویل: د اسلامي نظام په وړاندې د ټولنې ټول اقشار یو ډول دي او اسلامي احکام باید په ټولو یو ډول پلي شي نه داسي چې د منصب په خاوندانو یو ډول او په ټیټ رتبه وو بل ډول تطبیق شي.

ده دا راز له ولسونو او مسـؤلینو څخه غوښتنه وکړه چې د معروفاتو د اقامې او منکراتو د مخنیوي په باب دې د یاد ولایت د امربالمعروف او نهی عن المنکر مسؤلینو ترڅنګ ودریږي څو په ګډه د ټولنې د اصلاح لامل شي.

شېخ الحنفي د حجاب اهمیت او ارزښت ته په اشارې سره وویل چې فاطمې رضی الله عنها د مرض په وخت کې علی رضی الله عنه ته وویل چې کله زه مړه شوم زما جسـد هدیرې ته په ورځ کې مه وړئ هسـې نه زما د جسـد سره لګیدلی کفن څوک و ویني او په خبره یې چې مونږ باید حجاب ته ډیره پاملرنه وکړو او هم خپلې خویندې د دې حکم پلي کولو ته را وبلو.

د یادولو وړ ده چې له دې وړاندې هم د امربالمعروف وزارت سرپرست ځینو ولایتونو ته سفرونه کړي او هلته یې له مســؤلینو سره په لیدنو کې له هغوی غوښـتي چې له خلکو سره نیک سـلوک وکړي او هم په ټولنه کې د اسـلامي احکامو په پلي کولو کې همکاري وکړي چې یاد سفرونه لا هم جریان لري.